SHTAMANI
شتمني
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت


**په ایمان کې د نقصان پیدا کوونکي اعمال او اخلاق**

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: څوک چې د یوه ظالم د مرستې له پاره روان سي او دی په دې پوهیږي، چې دا ظالم دئ؛ نو په تحقیق سره له اسلامه ووتئ. [رواه البیهقي في شعب الایمان (ص: ۱۲۲ ج: ٦ شان الحدیث (۷٦۷۵)]

**اعمال و اخلاق که موجب نقصان در ایمان می شود**

نبي کریم صلی الله علیه وسلم می فرماید: وقتی یک شخص برای کمک به ظالم حرکت کند و بداند که این یک ظالم است؛ پس به تحقیق از اسلام خارج شد. [رواه البیهقي في شعب الایمان (ص: ۱۲۲ ج: ٦ شان الحدیث (۷٦۷۵)]

( د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)


شنبه | درمضان المعظم ۸-۱٤٤٦ال س/ د کب ۱۸-۱٤۰۳ال ل/ د مارچ ۸-۲۰۲۵ز/خلورم کال / ۱۳۵ گڼه/ ٤ مخیزه




## سرمقاله

## اقتصاد پویا؛ کلید رشد و توسعه پایدار

اقتصاد پویا یکی از ارکان اصلی رشد و توسعه پایدار در هر کشور است. در دنیای امروز که تغییرات سریع و پیچیده‌ای در اقتصاد جهانی رخ می‌دهد، داشتن اقتصادی پویاتر و انعطاف‌پذیرتر برای مقابله با چالش‌ها و استفاده از فرصت‌ها ضروری است. اقتصاد پویا به معنای سیستمی است که بتواند به‌سرعت به تغییرات محیطی و داخلی واکنش نشان دهد و به رشد و بهبود مستمر بپردازد. این نوع اقتصاد نه تنها بر رشد اقتصادی تأکید دارد، بلکه بر توزیع عادلانه منابع، نوآوری و بهبود کیفیت زندگی مردم نیز تمرکز دارد. یکی از ارکان اصلی اقتصاد پویا، نوآوری و استفاده از فناوری‌های پیشرفته است. کشورهای موفق در زمینه‌های اقتصادی همواره از فناوری‌های نوین بهره‌برداری کرده‌اند و همزمان با پیشرفت‌های علمی و فنی، صنایع جدید را ایجاد کرده‌اند. فناوری اطلاعات، صنعت دیجیتال، انرژی‌های تجدیدپذیر و هوش مصنوعی، برخی از مواردی هستند که می‌توانند شتاب‌دهنده رشد اقتصادی در دنیای مدرن باشند.

اقتصادی که بتواند به تغییرات سریع نیاز بازار و مهارت‌های شغلی پاسخ دهد، در برابر بحران‌ها مقاوم‌تر خواهد بود. ایجاد سیستم‌های آموزشی و مهارتی کارآمد و متناسب با نیازهای روز می‌تواند کمک زیادی به ایجاد نیروی کار توانمند و متخصص در جامعه کند. یک اقتصاد پویا، اقتصادی است که توسعه آن در بلند مدت به حفظ منابع طبیعی، کاهش نابرابری‌ها و احترام به محیط‌زیست توجه کند. این اقتصاد نمی‌تواند تنها بر اساس رشد اقتصادی کوتاه مدت عمل کند، بلکه باید در پی توسعه‌ای باشد که به نسل‌های آینده نیز اجازه بهره برداری از منابع و فرصت‌های اقتصادی را بدهد. کشورهای با اقتصادی پویامعمولاً با داشتن بخش‌های اقتصادی متنوع و گسترده شناخته می‌شوند. این تنوع نه تنها در حوزه‌های مختلف صنعتی بلکه در سطح تجارت خارجی و روابط اقتصادی با دیگر کشورها نیز دیده می‌شود. این کشورها به‌راحتی می‌توانند خودرا از بحران‌های جهانی یا رکودهای اقتصادی جهانی محافظت کنند.

برای دستیابی به اقتصادی پویا، مدیریت بهینه منابع مالی، انسانی و طبیعی اهمیت زیادی دارد. سرمایه‌گذاری در پروژه‌های زیرساختی و تولیدی، بهبود کارآیی سازمان‌ها، و ارتقاء فرهنگ کار و بهره‌وری می‌تواند به شتاب‌دهی رشد اقتصادی کمک کند. با وجود اهمیت بالای اقتصاد پویا، دستیابی به آن در بسیاری از کشورها به چالش‌هایی برخورد می‌کند. نابرابری‌های اجتماعی، فساد اداری، عدم دسترسی به منابع مالی کافی و مشکلات سیاسی می‌توانند موانعی بر سر راه ایجاد یک اقتصاد پویا باشند. برای غلبه بر این چالش‌ها، لازم است که سیاست‌گذاران و مقامات اقتصادی در راستای تقویت نهادهای دولتی، تسهیل دسترسی به منابع مالی، و ایجاد بسترهای قانونی و شفاف برای کسب‌وکارها گام بردارند. اقتصاد پویا به عنوان موتور محرک رشد و توسعه کشورها، نقشی حیاتی در آینده جوامع ایفا خواهد کرد. برای رسیدن به این هدف، نیاز است که کشورها به نوآوری، توسعه پایدار، و ایجاد سیستم‌های اقتصادی و اجتماعی کارآمد توجه ویژه‌ای داشته باشند. در نهایت، اقتصاد پویا نه‌تنها باعث رشد اقتصادی می‌شود، بلکه باعث بهبود کیفیت زندگی مردم، ایجاد فرصت‌های شغلی و رفاه عمومی خواهد شد.

**با احترام**

**اداره**

## مالیې وزارت د ټیټ کیفیت نفتي توکو لسگونه ټانکره بیرته مسترد کړي



د مالیې وزارت د نفتي توکو د کیفیت او څارني ریاست، چې د ټاکل سویو معیارونو له مخې هیواد ته د واردېدونکو نفتي توکو کیفیت معلوموي، د (۱۴۰۳) هـ.ل کال د سلواغې په میاشت کې ئې د هیواد له بېلابېلو گمرکونو څخه (۱۲۴) ټانکره د ټیټ کیفیت لرونکي وارد سوي نفتي توکي بېرته مسترد کړي دي. په دغو توکو کې چې د کیفیت له پلوه پر معیار نه ول برابر (۸۸) ټانکره ډیزل د فراه له گمرک څخه، (۳۳) ټانکره ډېزل او (۳) ټانکره اوبلن گاز د نیمروز ولایت له گمرک څخه مسترد سوي دي. د یادولو ده، چې د مالیې وزارت د نفتي توکو د کیفیت او څارني ریاست د ټاکل سویو معیارونو له مخې، هیواد ته د لوړ کیفیت او معیاري نفتي توکو واردولو ته زمینه برابروي او په کلکه د بې کیفته نفتي توکو د واردولو مخنیوی کوي.

## د مالیې او پوهني وزارتونو ترمنځ د گډو همکاریو هوکړه لیک لاسلیک سو

د مالیې وزارت او اړوندو واحدونو د کم سوادو او بېسوادو خدماتي کارکوونکو له پاره د سواد زده‌کړي کورسونو د برابرولو په موخه د مالیې وزارت کفیل او اداري معین مولوي دوست محمد مخلص او د پوهني سرپرست وزیر مولوي حبیب الله آغا ترمنځ د گډي همکارۍ هوکړه لیک لاسلیک سو. د دغي هوکړي له مخې د مالیې وزارت مکلف دئ، چې هر کال د مرکز او ولایتونو په کچه د خپلو بېسوادو او کم سوادو خدماتي کارکوونکو سروې ترسره او د هغوی لېست به په مرکز کې پوهني وزارت او ولایتونو کې د پوهني ریاستونو ته استوي؛ څو په اړوندو ټولگیو کي شامل او د هغوی د زده کړو وړتیا لوړه سي. سربېره پر دې به د مالیې وزارت د سواد زده کړي ټولگیو ټول لگښتونه؛ لکه: معاشونه او امتیازات، قرطاسیه، د درسي کتابونو چاپ او وېش د تصدیق پاڼو چاپ او اړوند نور امکانات هم برابروي. د پوهني وزارت هم د دغي هوکړي له مخې مکلف دئ، چې د عامه پوهاوي توکي چمتو او د پلي کېدو او څېرولو په موخه ئې د مالیې وزارت په واک کې ورکړي. د دې ترڅنگ دغه وزارت د مالیې له وزارت سره په همغږۍ د مرکز او ولایتونو په کچه د سواد زده‌کړي ټولگیو د ښوونکو له تدریسي بهیر، د لویانو له ښوونیزو معیارونو، له وړاندي سوي احصایې سره سم، د سواد زده‌کړي ټولگیو له شتون او د وروستي نصاب له پلي کېدو څخه څارنه ترسره او ډاډ به ترې ترلاسه کوي. د یادوني ده، چې د دغه هوکړه لیک د ښه پلي کېدو او له اړوندو چارو څخه د سمي څارني په موخه به د دواړو اړخونو له با صلاحیته استازو څخه یوه گډه اجرائیه کمېټه هم جوړه او په کار به پیل وکړي.

## د مالیې وزیر د قوش تېپې کانال شاوخوا ځمکو د معقولي گټې اخیستني د طرحي وړاندي کولو په غونډه کې گډون وکړ



د قوش تېپې کانال شاوخوا ځمکو د معقولي گټې اخیستني طرحه، چې د مالیې وزارت، د کرني، اوبو لگولو او مالدارۍ وزارت او اړوندو ادارو په همکارۍ چمتو سوې ده، د یوې غونډې په ترڅ کې د امارت لوړپوړو مسئولینو ته وړاندي سوه. په همدې موخه جوړه سوې غونډه کې، چې د کرني په وزارت کې جوړه سوې وه، د مالیې وزیر الحاج ملا محمد ناصر اخوند، د کرني، اوبولگولو او مالدارۍ وزیر مولوي عطاءالله عمري، د کور او ښار جوړوني وزیر مولوي حمدالله نعماني، د چارو اداري لوی رئیس شیخ الحدیث مولوي نورالحق انور او یو شمېر نورو مسئولینو گډون کړی وو. په دغه غونډه کې د قوش تېپې کانال پر اهمیت او د یادي طرحي د چمتو کولو پر موخو خبري وسوې او ټینگار پر دې وسو، چې د دې کانال شاوخوا ځمکو څخه اغېزمنه گټه واخیستل سي او په دې سیمو کې منظمو صنعتي، کرنیزو او مالدارۍ کمپلیکسونو ته وده ورکړل سي. د یادوني ده، چې دا طرحه د طبیعي سرچینو د ښې گټې اخیستني او د قوش‌تېپې کانال شاوخوا سیمو د اقتصادي ودي له پاره یو مهم گام گڼل کېږي او تمه ده، چې د خصوصي سکټور او پانگوالو په همکارۍ په دې سیمه کې د مثبتو بدلونونو شاهدان و اوسو.



د مالیې وزارت د گمرکونو او عوایدو او د کرني وزارت د مالي او اداري معینیتونو ترمنځ د همغږۍ ناسته وسوه


م ۲





د هیواد د مستوفیتونو له مسئولینو سره د همغږۍ ناسته وسوه


م ۲




د مالیې وزارت مسئولینو د جغرافیوي معلوماتو او مصنوعي ځیرکتیا د حل لارو په آنلاین ورکشاپ کي گډون وکړ


م ۲




د خوست د محصولي گمرک لیلیه گټي اخیستني ته وسپارل سوه


م ۲





کاربرد تحلیل SWOT در مدیریت


م ۳




تاجکستان په (۲۰۲۷)ز کي د کاسا – ۱۰۰۰ نړیوال برېښنایي مزي د فعالېدو تمه لري


م ٤

شتمنی
SHTAMANI
اوونيزه

## د خوست د محصولي گمرک ليليه گټي اخيستني ته وسپارل سوه



د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رياست له لوري د (۱۵.۴) ميليونه افغانيو په ارزښت د خوست په محصولي گمرک کې د کارکوونکو له پاره ليليه جوړه او گټې اخيستني ته وسپارل سوه. دغه ليليه په معياري ډول په دوو پوړونو کې جوړه سوې ده، چې د (۲۰) خونو (۱۲) عصري حمامونو، (۱۲) تشنابونو، يوه پخلنځي او نورو اړينو امکاناتو درلودونکي ده، چې له گټې اخيستني سره به ئې د ياد گمرک کارکوونکو ته گڼې اسانتياوي برابري سي. د يادي پروژې لگښت د ماليې وزارت له پراختيايي بوديجې څخه ورکول سوی او چاري ئې په (۱۵) مياشتو کې د يوه افغاني شرکت له لوري بشپړي سوي دي. د يادوني وړ ده، چې د گمرکونو لوی رياست تېره ورځ د فراه ولايت د ابو نصر فراهي گمرک ليليه هم له جوړولو وروسته گټې اخيستني ته وسپارله.

## په تېرو دوو اوونيو کې د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کې په زياته اندازه قاچاقي توکي نيول سوي دي



د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رياست د گرځنده څارني کارکوونکو په تېرو دوو اوونيو کې د نيمروز، کندهار، فراه، ننگرهار، هرات او هلمند ولايتونو په بېلابېلو سيمو کې په زياته اندازه قاچاقي توکي نيولي دي، چې قاچاق کوونکو غوښتل له گمرکي محصول پرته ئې په قاچاقي ډول افغانستان ته راوړي. په نيول سويو توکو کې (۱۰۷۷۸) کيلو گرامه چاکلېټ، (۱۱۵٦٦) کيلو گرامه انساني، حيواني او زراعتي درمل، (۳۹۲۲) کيلو گرامه شامپو، (۳۳۰۰) کيلو گرامه گوړه، (۱۵۹۲۰) کيلو گرامه کينو، (٦۷۸۰) کيلو گرامه کاکو، (۲۸۲۵) کيلو گرامه لوبيا، (۳۸۷۰) کيلو گرامه رُب، (۱۸۲۷) کيلو گرامه بيسکېټ، (۲٤۳۰) کيلو گرامه پاکټي کوچ، (۱۱۲۵) کيلو گرامه د مخ کريم، (۱۰٦۰) کيلو گرامه اچار، (۱۰۵۰) کيلو گرامه مالگه، (۱۳۰۰) کيلو گرامه تار، (۲۷۰۰) کيلو گرامه د ماشومانو پمپر، (۲۸۵) کيلو گرامه ملايي، (۳۵۰) کيلو گرامه مکروني، (۱۲۰) کيلو گرامه وچې شيدې، (٤٤۸) کيلو گرامه چسپ او (۱۱۰) کيلو گرامه دال شامل دي. نيول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو گمرکونو ته سپارل سوي دي. د يادوني وړ ده، چې د ماليې وزارت د گرځنده څارني کارکوونکي په ټول هيواد کې گرځنده څارني کوي او هيڅا ته اجازه نه ورکوي، چې ممنوعه او قاچاقي توکي ولېږدوي.

## د ماليې وزارت د گمرکونو او عوايدو او د کرني وزارت د مالي او اداري معينيتونو ترمنځ د همغږۍ ناسته وسوه



د ماليې وزارت د گمرکونو او عوايدو معين الحاج مفتي عبدالمتين سعيد او د کرني، اوبو لگولو او مالداری وزارت د مالي او اداري معين آغا جان حاجي اسلم ترمنځ د عوايدو د تنظيم او همغږۍ ناسته د يادو معينيتونو د رئيسانو او مشاورينو په گډون د گمرکونو او عوايدو معينيت د غونډو په تالار کې وسوه. لومړی د گمرکونو او عوايدو معين په خپلو خبرو کې اقتصاد د يوه هيواد د ملا تير ياد کړ او زياته ئې کړه، چې که مو ملي اقتصاد پياوړی وي، نو پياوړی نظام به ولرو، د دې لپاره، چې ملي اقتصاد پياوړی کړو، ټول بايد د عوايدو په راټلولو کې پوره هڅه او اخلاص وکړو، د اختلاس مخه ونيسو او تر شخصي گټې ملي گټې معتبره وبولو. د کرني، اوبو لگولو او مالداری وزارت مالي او اداري معين په خپلو خبرو کې د نظام ملاتړ د ټولو مسئوليت ياد کړ او زياته ئې کړه، چې هر افغان بايد تر خپله وسه د نظام او هيواد د پرمختگ له پاره هڅه وکړي. د ناستي په جريان کې د کرني، اوبو لگولو او مالداری وزارت د مالي او اداري معينيت رئيسانو، د عوايدو را ټولولو په برخه کې د ترسره سويو فعاليتونو، د چارو پر وړاندې د خنډونو او ستونزو په تړاو معلومات وړاندې کړل، چې د حل له پاره ئې د دواړو لوريو د معينانو او مشاورينو له خوا د حل مناسبې لاري چاري وړاندې سوې.

## د هيواد د مستوفيتونو له مسئولينو سره د همغږۍ ناسته وسوه



د ماليې وزارت د عوايدو او گمرکونو معين الحاج مفتي عبدالمتين سعيد په مشرۍ او د عوايدو لوی رياست د مسئولينو په گډون، د ولايتونو له مستوفيانو سره پر ليکه د همغږۍ ناسته وسوه. په پيل کې د عوايدو او گمرکونو معين مستوفيانو ته د هغوی د ستونزو د حل او د چارو د ښه تنظيم په موخه اړيني لارښووني وکړې او ټينگار ئې وکړ، چې مستوفيتونه دې له اړوندو ولايتي ادارو سره په همغږۍ حقيقي عوايد راټول کړي. ښاغلي سعيد د مستوفيتونو مسئولينو ته وويل، چې له ماليه ورکونکو سره پرلپسې ناستي وکړئ، هغوی مستوفيتونو ته راوغواړئ، ستونزي او غوښتني ئې واورئ، د ستونزو پر حل لارو خبري وکړئ؛ څو دوی وکولای سي خپل ماليات په ټاکلي وخت د امارت خزانې ته وسپاري. همدارنگه د مستوفيانو ستونزي او غوښتني هم واورېدل سوې، چې د مسئولينو له خوا ورته د حل او اصولي اقداماتو ډاډ ورکړل سو.

## د ماليې وزارت مسئولينو د جغرافيوي معلوماتو او مصنوعي ځيرکتيا د حل لارو په آنلاين ورکشاپ کې گډون وکړ




د ملگرو ملتونو سازمان د پايداره پرمختگ حل لارو اداري (SDSN) له لوري د نړۍ د ماليې او پلان وزارتونو له پاره د جغرافيوي معلوماتو (GIS) او مصنوعي ځيرکتيا (AI) د حل لارو په تړاو د لوړ پوړو غړو ورکشاپ پر ليکه (آنلاين) بڼه ترسره سو. په دغه ورکشاپ کې د نړۍ د بېلابېلو هيوادونو استازو گډون درلود، چې له افغانستان څخه د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست مسئولينو برخه اخيستې وه. ياد ورکشاپ د (جغرافيوي معلوماتو او مصنوعي ځيرکتيا حل لاري) تر عنوان لاندې د پايداره پرمختگ له پاره د مالي سيستمونو تقويت ته ځانگړې سوی وو. د ياد ورکشاپ په لړ کې گډونوالو ته د جغرافيوي معلوماتو، ليري سنجوني، د سپوږمکۍ د انځورونو او د جغرافيوي مصنوعي ځيرکتيا (GEOAI) د عملي کاروني مهمې وسيلې او د اطلاعاتو پر بنسټ د تصميم نيولو اسانتيا، د مالي پلان جوړونې له پاره د جغرافيوي معلوماتو اهميت، د اسانه پرېکړو نيولو له پاره د مصنوعي ځيرکتيا کارولو، د مختلفو هيوادونو تجربې او برياليتوبونه، د مالي ستراتيژيو پياوړتيا او پايداره تمويل او يو شمېر نورو اړوندو مهمو موضوعات په تړاو د نظرونو تبادله ترسره سوه. په ټوله کې دغه ورکشاپ يو بريالی گام وو، چې د Geospatial او AI) حل لارو په تړاو پراخ نظرونه پکې وړاندې سول او گډونوالو ته د عصري ټکنالوژۍ د عملي استفادې نوي لاري وښودل سوې، چې دا به د پايدار پرمختگ، له اقليمي بدلون سره د مقابلې او د معلوماتو پر بنسټ د پياوړو مالي پلانونو په جوړولو کې مرسته وکړي.

## د ولايتي مستوفيتونو او گمرکونو ۱۲۲ تنه کارکوونکو ته جوړ سوي روزنيز پروگرامونه پای ته ورسېدل

د ماليې وزارت د گمرکونو او عوايدو ملي اکاډمۍ له کلني تدريسي پلان سره سم، د مستوفيتونو د ماليه ورکونکو خدمتونو برخې (٤۰) تنه کارکوونکو او د نيمروز گمرک (۸۲) تنه کارکوونکو ته د گمرکونو او عوايدو په ملي اکاډمۍ کې د «مسلکي کولو» تر سرليک لاندې (۱٦) ورځني روزنيز پروگرامونه د يو لړ مراسمو په ترڅ کې د تصديق پاڼو په وېشلو سره پای ته ورسېدل. په دغه پروگرام کې د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست عملياتي مرستيال انجينر خان محمد ذاکر، د دعوت او ارشاد رياست مدرس مولوي وسيم احمد احمدي، د عوايدو او گمرکونو د ملي اکاډمۍ آمر بلال احمد احدي او د ياد آمريت ښوونکو گډون کړی وو. د عوايدو لوی رياست عملياتي مرستيال وويل، چې کارکوونکي بايد له دې روزنيز پروگرام څخه ترلاسه سوي زده کړې په خپلو ورځنيو چارو کې په غوره بڼه پلي کړي او د خپلو ښوونکو او مشرانو له اوامرو څخه بشپړ اطاعت وکړي. د دعوت او ارشاد رياست مدرس په خپلو خبرو کې وويل، چې ټول کارکوونکي بايد له نېکو اخلاقو څخه برخمن او خپل سيرت او صورت پر شريعت برابر کړي، سربېره پر دې خپلې چاري په پوره ايمانداری ترسره او له ولس سره نېک چلند وکړي. د يادوني وړ ده، چې په دغه روزنيز پروگرام کې د مستوفيتونو د ماليه ورکوونکو خدمتونو برخې کارکوونکو ته د گمرکونو او عوايدو ملي اکاډمۍ آمريت د مسلکي ښوونکو له لوري مالياتي قوانين، طرزالعملونه، مالياتي محاسبات، مالياتي اظهارليکونه او د سيستمونو برخې تدريس سوي دي او د نيمروز گمرک کارکوونکو ته د تعرفې، بيې ټاکني، لابراتور، گمرکي قوانينو او اسيکوډا سيستم په برخه کې روزنه ورکړل سوه.



شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

# کاربرد تحلیل SWOT در مدیریت

عبدالبصیر عمر شاه خیل
محقق دکتورای اقتصاد و تجارت بین الملل




تحلیل SWOT یکی از ابزارهای پرکاربرد در مدیریت و بویژه بازار یابی است. تحلیل سوات «SWOT Analysis» یکی از استراتژی است که به کار و بار ها کمک می کند، تا با تشخیص نقاط ضعف، قوت، فرصت و تهدید های اداری خود برای رسیدن به موفقیت، راهکارهای هوشمندانه ای اتخاذ کنند. سوات (SWOT) مخفف جمله قوتها (Strengths)، ضعف ها (Weaknesses)، فرصت ها (Opportunities) و تهدید ها (Threats) است. فن تحلیل سوات بسیار کاربردی است و بسیاری از شرکت های موفق این تحلیل را برای بهبود عملکردشان انجام میدهند. هر فرد، سازمان و نظامی می تواند، از تحلیل SWOT استفاده کند. (منصوری فر، ١٤٠٣)

### زمان کاربرد تحلیل SWOT

١. در ابتدای طراحی سیستم.

٢. در زمان تغییر استراتیژی سازمان.

٣. در وقت مواجهه با تهدید ها.

٤. باید هر ٦ یا ١٢ ماه یک بار تحلیل سوات را از نو انجام داد که می تواند به پیشرفت سازمان کمک کند.

### مزایای استفاده از تحلیل SWOT

١. با یافتن دقیق عوامل بیرونی و درونی یک سازمان، منابع را هماهنگ و بهره گیری از قابلیت های سازمان را افزایش می دهد.

٢. با شناخت گذشته و حال، دید کلی نسبت به چشم انداز آینده میدهد.

٣. به اتخاذ یک استراتژی خوب برای رسیدن به اهداف سازمان کمک میکند.

٤. می تواند برای متمایز شدن از رقبا مورد استفاده قرار گیرد.

٥. با شناسایی نقاط قوت سازمان برای برون رفت از چالش ها کاربرد دارد.

٦. با شناخت نقاط ضعف سازمان، برای از بین بردن آنها کمک میکند.

٧. با شناخت فرصت ها تصمیم میگیرد و برای موفقیت استفاده می کند.

٨. با شناسایی تهدید ها می توان برای هر تهدید راهکاری اندیشید و به نفع خود از آن بهره برد.

### معایب تحلیل SWOT

١. امکان دارد برخی مدیران بر روی داشته ها و نقاط قوت خود تمرکز داشته دچار خود بزرگ بینی شوند.

٢. ممکن است برخی مدیران فقط به ضعف های خود فکر کنند که به کلی اعتماد به نفس آنها را از بین ببرد.

### طرز استفاده از تحلیل SWOT

١. نخست برای طراحی ماتریس سوات هر کدام از نقاط قوت، ضعف، فرصت و تهدید را مشخص کنید.

٢. تمام افراد تاثیر گذار در سازمان را در یافتن نقاط ضعف و قوت بکار بگیرید.

٣. روی احساس یا فقط دیدگاه شخصی خودتان متمرکز نباشید.

٤. باید مقایسه هایی نسبت به رقبای شما صورت دهید.

### نقاط قوت و ضعف:

به طور کلی منابعی چون؛ مالی، ارتباطی، بازاریابی، فیزیکی، انسانی، حقوقی و غیره به عنوان نقاط قوت و ضعف یک شرکت بوده میتوانند. با مشخص شدن نقاط قوت، یافتن نقاط ضعف آسان میشود. توجه داشته باشید که هر کمبودی نشان از ضعف نیست. باید نقاط ضعف را نسبت به ارزش و جایگاه آنها مشخص کنید. امکان دارد مواردی که شما به عنوان ضعف تصور می کنید، رقبای شما نیز به همان اندازه داشته باشند. برای پی بردن به نقاط ضعف، می توانید چنین سوالاتی از خود بپرسید:

١. چه عواملی باعث عقب ماندن ما از رقبا شده اند؟

٢. چه چیزهایی باعث زیان مالی سازمان می شوند؟

٣. مراجعین چه ضعف هایی در ما می بینند؟

٤. کدام بخش ها از مجموعه درست عمل نمی کنند؟

### فرصت ها و تهدید ها:

برای یافتن فرصت ها باید به دقت دو مرحله پیش را بررسی کنید و ببینید نقاط قوت شما چه فرصت هایی را برای شما فراهم می آورد. به دقت وقایع که در اطرافتان در حال روی دادن هستند، را بررسی کنید و از آنها فرصت بیافرینید. همچنین مسائل سیاسی، فرهنگی، اجتماعی، ورزشی و غیره هر کدام می توانند، تبدیل به فرصت شوند. تمام عواملی که می توانند در موفقیت شما وقفه ایجاد کنند، در دسته تهدیدها قرار می گیرند. این سوال را از خود بپرسید که چه چیزهایی امکان دارد فروش ما را کم کند، تولیدات ما را کم کند، سود ما را کم کند، مشتری ما را کم کند و غیره. مواردی مثل وضعیت بازار، وضعیت اقتصادی، وضعیت سیاسی می توانند به نوعی تهدید تلقی شوند.

### ماتریس سوات «SWOT matrix» چیست؟

ماتریس تحلیل سوات یک جدول چهار خانه ای است که در آن نقاط قوت در مقابل فرصت ها قرار می گیرد و نقاط ضعف در مقابل تهدید ها هستند. در هر خانه از این جدول لازم است، تا موارد مربوط به آن قرار گیرد و بتواند به این ترتیب چهار استراتژی از دل این ماتریس بیرون بیاید.

### استراتژی های تحلیل سوات

الف: استراتژی SO(Strength-Opportunity):

این استراتژی بیان می کند، که از نقاط قوت خود استفاده کنید و از فرصت ها بهره ببرید.

ب: استراتژی WO(Weakness-Opportunity)

این استراتژی به این اشاره دارد که می توان از هر فرصتی برای از بین بردن نقاط ضعف نیز استفاده کرد.

ج: استراتژی WT(Weakness-Threat)

این استراتژی حالت دفاعی را در مقابل تهدید ها دارد. بیشتر برای زمانی کاربرد دارد، که امکان ورشکستگی وجود دارد و تهدید ها و ضعف ها بیشتر است.

د: استراتژی ST(Strength-Threat)

استراتژی ST می گویند؛ که به کمک نقاط قوت خود، هر نوع تهدیدی را خنثی کنید و که این استراتژی می تواند در بسیاری از مواقع به کار آید.

### نتیجه گیری

تحلیل SWOT یکی از صدها روشی است، که در مدیریت استراتیژیک به کار گرفته می شود. این شیوه تحلیل و بررسی به کسب و کارها کمک می کند، تا با شناخت چهار عنصر: نقاط ضعف، قوت، فرصت و تهدید ها یک شناخت کلی نسبت به شرایط موجود، در درون و بیرون هر سازمان به دست آید.



## اعلانات داوطلبی

### اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاک امارتي وزارت مالیه (٦) باب دوکاکین ذیل واقع ناحیه اول شهر کابل را به شکل آفر سر بسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی می سپارد، برای مدت(١) سال.

١.یک باب دوکان نمبر(١٢٦) به مساحت(٥,٥١) مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ٣٦٠٠٠ ) افغانی.

٢.یک باب دوکان نمبر(٩٨) به مساحت (٥,٤١٥) مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(٥١٦٥٠) افغانی.

٣. یک باب دوکان نمبر(١٧١) به مساحت (٢,٨) مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(٣٥٢٣٠) افغانی.

٤.یک باب دوکان نمبر(١٤٢) به مساحت(٦,٦٧) مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ١٠٥٥٠٠ ) افغانی.

٥.یک باب دوکان نمبر(١٥٠) به مساحت(٦,٣٨) مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ٣١١٥٠ ) افغانی.

٦.یک باب دوکان نمبر(١٣) به مساحت(٥,٧) مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(٥٥٧٦٣) افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر): ٦٩,١٧٧٥٦- ٣٤,٥١٧١

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایدادهای فوق را داشته باشند میتوانند درخواست های شان را بعد از تاریخ (١٨ / حوت/ ١٤٠٣ الی ٢ / حمل/ ١٤٠٤) به ریاست عمومی املاک امارتی واقع منزل چهارم تعمیر ١٤ منزله سینمای پامیر تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس: سینما پامیر تعمیر١٤منزله، منزل٥، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز.

شماره تماس-٠٢٠٢٩٢٤٦٢٤-٠٢٠٢٩٢٤٦٠٧.

مجلس داوطلبی تاریخ ٤/ حمل/ ١٤٠٤ به ساعت ١٠:٠٠ قبل از ظهر برگزار میگردد.

### داوطلبی خبرتیا

د مالیې وزارت د امارتي املاکو لوی ریاست غواړي، چې د کابل ښار (١٦) مې ناحیې اړوند په کوه البرز کې د A او B بلاکونو (۴) بابه دوکانونو په جلا جلا ډول د ازادي داوطلبۍ له لارې د یو کال له پاره په کرایه/ اجاره ورکړي.

١- د کابل ښار (١٦) مې ناحیې اړوند د کوه البرز په A بلاک کې یو باب (٢) نمبر دوکان چې (۴۸.٦٨) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٨٠٠٠) افغانۍ ده. کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦٩,٢٠٣٥٤ -٣٤,٥٢١٩٣

٢- د کابل ښار (١٦) مې ناحیې اړوند د کوه البرز په B بلاک کې یو باب (۴) نمبر دوکان چې (٢٧) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٨٠٠٠) افغانۍ ده.

٣- د کابل ښار (١٦) مې ناحیې اړوند د کوه البرز په B بلاک کې یو باب (٥) نمبر دوکان چې (١٧.٣٦) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۴٠٠٠) افغانۍ ده.

۴- د کابل ښار (١٦) مې ناحیې اړوند د کوه البرز په B بلاک کې یو باب (١٢) نمبر دوکان چې (١٥.٩) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۴٠٠٠) افغانۍ ده. کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦٩,٢٠٢٩٨ -٣٤,٥٢١٧٨

هغه حقیقي او حکمي اشخاص، چې غواړي پورته ذکر سوي دوکانونه په کرایه ونیسي، کولای سي چې خپل غوښتنلیکونه د (١۴٠٣/ کب/ ١۴) څخه وروسته تر (١۴٠۴/ حمل /٥) نېټې پورې د امارتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپاڼه ترلاسه کړي.

آدرس: د سینما پامیر (١۴) پوړیزه ودانۍ، (٥) پوړ، د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مدیریت.

د داوطلبۍ نېټه: د ( ١۴٠۴/ حمل/ ٠٦) نېټه، د غرمې وروسته د سهار ١٠:٠٠ بجې تر سره کیږي.

د اړیکو شمېرې: ٠٢٠٢٩٢٤٦٠٧- ٠٢٠٢٩٢٤٦٢٤

### اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه موازی(٤٩٤١,١) مترمربع زمین احاطه شده بنام کمپلیکس ورزشی که در آن چهار باب تعمیر یک منزله و دومنزله، سه باب اطاق خامه، چهار باب دوکان آیسکریم فروشی و یک حلقه چاه آب نیز میباشد واقع کابل ننداری مربوط ناحیه(١٦) شهر کابل را به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ١٤٩٠٠٦ ) افغانی به شکل آفر سربسته به مدت (٣) سال به داوطلبی می سپارد.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦٩,١٩٧٧٤٠ ٣٤,٥١٨٢٢٠

اشخاص حقیقی وحکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد فوق باشند می توانند درخواست های شان را بعد از تاریخ ١٦ / حوت/ ١۴٠٣ الی ٧ / حمل/ ١۴٠۴ به ریاست عمومی املاک امارتی واقع منزل چهارم تعمیر ١۴ منزله سینمای پامیر تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس: سینما پامیر تعمیر١٤منزله، منزل٥، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز.

شماره تماس-٠٢٠٢٩٢٤٦٢٤-٠٢٠٢٩٢٤٦٠٧.

مجلس داوطلبی تاریخ ٨ حمل ١۴٠۴ به ساعت ١٠:٠٠قبل از ظهر برگزار میگردد.

شتمني
SHTAMANI
اوونيزه

د امتياز خښتن: د ماليې وزارت
مسئول مدير: احمد ولي حقمل
مرستيال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ويبسايټ: mof.gov.af
اېکسپاڼه: Afghanistan mof
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)






## تاجکستان په (۲۰۲۷)ز کې د کاسا – ۱۰۰۰ نړیوال برېښنايي مزي د فعالېدو تمه لري




د اینټرفېکس ـ Interfax په نوم رسنۍ د ریپورټ په اساس، چې وايي د تاجک انرژۍ او اوبو سرچینو وزارت ویلي، د پولي هاخوا د «منځنۍ اسیا - سویلي اسیا» دا لویه برېښنايي پروژه، چې د قیرغیزستان او تاجک انرژۍ سیستمونه به له افغانستان او پاکستان سره وصل کړي، تمه ده، چې په (۲۰۲۷)ز کې فعاله سي.

د کاسا – ۱۰۰۰ پروژې په تړاو د تاجکستان د خوشبینۍ له مخې د دې پروژې د ځنډ په اړه ویل سوي دي، چې: "په وروستیو کلونو اصلي ستونزه د پراختیايي شریکانو له خوا د افغانستان برخې له پاره د تمویل ځنډول وه."

وايي تر خبرو اترو وروسته دا مسئله له پراختیايي شریکانو سره حل سوه.

ریپورټ اټکل کوي، چې په افغانستان پوري تړلي برخې کار به د (۲۰۲٦)ز تر پایه پوري بشپړ سي.

د قیرغیزستان، تاجیکستان، افغانستان او پاکستان تر منځ د دې ستري پروژې په هکله اینټرفېکس د ملاتړ له پاره دا ادارې ذکر کړي دي؛ لکه: د نړیوال بانک ګروپ، اسلامي پراختیايي بانک، د بیارغوني او پراختیا له پاره د اروپا بانک، د اروپا د پانګوني بانک او څو مرستندویه سازمانونو له خوا ملاتړ کېږي.

د ریپورټ په متن کې د افغانستان اسلامي امارت له خوا د افغانستان برېښنا شرکت هم په دې باب ویلي دي، چې تر دوه کلن ځنډ وروسته، پروژه په (مې/ ۲۰۲٤)ز کې د نړیوال بانک په مالي ملاتړ سره بیا پیل سوه او تمه کېدله، چې دا به د (۲۰۲۵)ز تر پایه پوري بشپړه سي.

ریپورټ په وروستۍ برخه کې ډاډ ور کوي، چې وايي د دې پروژې بیا پیل د سیمې د هیوادونو په غوښتنه او د افغانستان په بشپړ باور سره پیل سوه، کوم چې ټول اړین شرائط به ئې بشپړ سي.

## Officials of MoF Participate in Online High-Level Workshop on GIS, AI Solutions

The UN Sustainable Development Solutions Network (SDSN) organized an online workshop for senior members of the world's 'Ministries of Finance and Planning' regarding the Geographic Information Systems (GIS) and Artificial Intelligence (AI) solutions. The workshop was attended by representatives from different countries around the world, including officials from the General Directorate of Revenues of MoF from Afghanistan. The workshop was dedicated to strengthening financial systems for sustainable development under the title of 'Geospatial and AI Solutions: Transforming Financing for Sustainable Development'. During the workshop, participants exchanged views on the practical application of geographic information, remote sensing, satellite imagery and Geospatial Artificial Intelligence (GEOAI) as important tools and facilitating informed decision-making, the importance of geographic information for financial planning, the utilization of artificial intelligence for easy decision-making, experiences and successes of different countries, strengthening financial strategies and sustainable financing, and a number of other significant related topics. Overall, the workshop was a successful step, in which a wide range of ideas were presented regarding 'Geospatial and AI' solutions and participants were shown new ways to utilize modern technology in practice that will help in sustainable development, combating climate change, and creating strong financial plans based on information.

## MoF, MoE Ink MoU for Eradicating illiteracy of Employees, Enhancing Capacity



The Kafil and Deputy Minister of Administrative Affairs of MoF, Maulawi Dost Mohammad Mukhlis, and the Acting Minister of Education, Maulawi Habibullah Agha have signed a memorandum of understanding (MoU) to provide literacy courses for the illiterate and poorly educated service employees of MoF and related units. According to the MoU, the Ministry of Finance is assigned to conduct an annual survey of its illiterate and poorly educated service employees at the central and provincial levels, and share the list to the Ministry of Education (MoE) in both Kabul, and the Directorates of education in the provinces; therefore that employees can be included in the relevant classes and their educational capabilities can be enhanced. Mover ever, MoF will cover all expenses of the literacy classes, namely salaries and allowances, stationery, printing and distribution of textbooks, printing of certificates, and other related facilities. MoE is also obliged under this agreement to prepare public awareness materials, and hand them over to MoF for implementation and dissemination. Likewise, MoE, in coordination with MoF will monitor and ensure the teaching process of literacy class teachers at the central and provincial levels, the availability of literacy classes and the implementation of the latest curriculum in accordance with the adult education standards, the statistics provided. Notably, in order to properly implement the said MoU, and monitor related matters, a joint executive committee will be formed and started working from authorized representatives of both aforementioned IEA-run bodies.

### د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چې د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له خپلواک آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندې ادرسونو له لارې شریک کړي.
ټیلفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ (+۹۳)
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af



### د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کې دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومې ستونزې حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

### ریاست عمومی ګمرکات وزارت مالیه همیشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد ګمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱

شتمني اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د ماليې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوی.